

# فاروق « فردا »

د نشرنيټه : 14 نوامبر 2020 م

## غزل

سپوږمۍ سره همغاړې، منوره وي که نه وي
ګرمۍ به د خندا يې له سحره وي که نه وي
پر ترو د رڼا چې کړي را خور د زلفو ښند يې،
ورمې د تن د عطرو يې له لمره وي که نه وي

يعقوب ته ديوسف کميس راوړي خپلو ورونو
پوه نه يم زليخا به پرې خبره وي که نه وي
په پړک يې د سحر پر مخ د لمر خالونه ښنه شي
لَعبَت د يار دشوندو مُعَطَره وي که نه وي

ځنګل کښې د مرغانو يې وزرونه کړل پر وينو،
څه ؟ دزې د کابل يا له قطره وي که نه وي
هلال چې شو رابر روژه يې وبوره په لمن کښې،
خبر ملا د کلي له اختره وي که نه وي!

مزل ته د شپو زړه کښې سربښندنه شي تدبير
تکبير د سربښندونکو بې رهبره وي که نه وي؟
فردا به يې شهيدی ناري سا کړي د غزلو
د وخت قرباني شوي تير له سره وي که نه وي!!!

***

فاروق « فردا »
جمعه د ۲۰۲۰ د نوامبر ۱۳مه

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی